AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهاند محمد بشیر دودیال

۲۰۲۴/۱۰/۰۴

# د کلتوری خدمتونو یوه نوې بېلګه

## *(د تاریخ اوافغانستان پېژندنې مینه والوته زیری)*

څو ورځې مخکې راقم الحروف د ملي کلتور، کلتوري خدماتو او تر دې هم مهمه داچې د کلتوری وروسته والي(Cultural lag) د اندېښنې په اړه لیکنه خپره کړه. ډېر معزز مشر او نامتو ملی شاعر او عالم لیکوال ښاغلي جهانی صاحب زما لیکنه وستایله او اشاره یې کړې وه چې دغو لیکنو ته دوام ورکړم، یعنې هغه لیکنه یې مختصره ګڼلې وه. راقم الحروف کلتوري وروسته والی تعریف کړ، خو د کلتوری خدماتو( Cultural Services) بحث باید وغځوو او دا هم باید ومومو چې ایا موږ دې برخه کې کافي کار کړی دی او که نه؟
کلتوري خدمات او ملی کلتور ته وده ورکول د حکومت یوه مهمه دنده ده. افغانستان کې چې له څو وروستیو کلونو راډېخوا حکومتونه د قدرت غوښتنې، قدرت ټینګولو رقابتونو، جنګونو فسادونو او سیاسی سیالانو سره کشمکشونو کې بوخت شول، د غوره حکومتولي(G.G) او اتباعو ته د ضروري خدماتو د وړاندې کولو ترڅنګ، دا مهمه دنده هم ورځخه پاتې شوه، خو له نېکه مرغه شاوخوا داسې ملی فکرونه شته چې دا بار یې په اوږو اوچت کړ. ډېرو افغانانو دهېواد دننه اوبهر له بیوزلو هیواوالو سره د اقتصادی مرستو ترڅنګ؛ فرهنګی هڅو ته هم ملا وتړله، فرهنګي ټولنې یې جوړې کړی، ادبی غونډې، په بېلابېلو مناسبتو مشاعرې، علمی بحثونه، کنفرانسونه او د نمانځنې جشنونه یې جوړ کړل. تر دې هم پورته؛ ډېرو افغانانو مجلې او راډیویې او تلویزیونی خپرونو ته ملا وتړله. اوس موږ د دې شاهد یاستو چې دافغانستان لوی قاموس، آریانا دایرة المعارف، ... په شان پر لیکه فرهنګی خدمات هم جریان لري. یو مثال یې راقم الحروف د(افغانیکafghanic) عنوان لاندې د پوهنتونو لپاره د درسي کتابونو خدمات یاد کړل. دا دی د کلتوري خدماتو په برخه کې به یو بل زیری درنو هیوادوالو ته وړاندې شي:
" دافغانستان تاریخ او تمدن/ تاریخ و تمدن افغانستان " درنې او علمي مجلې لومړی ګڼه په ښکلې ډیزاین(جوله) او عالي علمی منځپانګه خپره شوه. دا مجله د افغانستان د تاریخ او ټولنیزو علومو د ټولنې(AHS) خپرنی ارګان دی چې هرو درېو میاشتو کې یو ځل خپرېږي. دمجلې مسئول مدیره آغلې خور درخانی ذهین ده. آغلې ذهین چې له خپلې درنې کورنی سره څه کم څلوېښتو کلونو راهیسې له هېواد بهر اوسیږي، کلونه کلونه یې جرمنی او د امریکا متحده ایالاتو کې د افغانستان فرهنګ ته لوی خدمتونه کړي دي.
د دغې مجلې لومړی ګڼه د ۱۴۰۳ل. کال په تلې = 2024-.Oct کې نشر شوه. د مجلې د لیکنې هیئت کې لاندې پوهان غړي دي:
پروفیسور حامد نوید دکابل پوهنتون پخوانی استاد، دوکتورزمان ستانیزی د امریکی متحده ایالاتو کې د پوهنتون پروفیسور، پوهاندمحمد بشیر دودیال، داکترسید حمیدالله روغ، سیف الله فضل بامیزی، دوکتورنور احمد خالدی، مهندس پوهنمل نجیم آزاد زوی او درخانی ذهین.
د دغې مجلې دلومړی ګڼې ځینې مقالې دا دي:

- د مدیرمسئول یادښت (د.ذهین)،
- انجمن تاریخ افغانستان (داکترنوراحمدخالدی)،
- احمدشاه ابدالي یو ستر ټولواک(شهسوار سنګروال)،
- درتاریخ نویسی تحلیل کالینګوو( داکترسید حمیدالله ورغ)،
- یونانیان د نننې افغانستان په سیمه کې( عتیق ځاځی)،
- پارسي باستان( سید فضل)،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

- بالاحصار باستانی کابل( استاد حامد نوید)،
- مقابله با جعل و تحریف تاریخ افغانستان( دوکتور خالدی)
- عبدالمجید زابلی بنیانگذار اقتصاد نوین (داکتر ناصر اوریا)،
- په معاصر افغانستان کې د مالیي دورکړي...(پوهاند دودیال)،
- د آزاد خان لنډه پېژندنه(مهندس پوهنمل نجیم آزادزوی)،
- مقابله با جعل و تحریف تاریخ...( داکتر خالدی)،
- Rajish :By Sarasvaty River Rigvedic On the Identity and Chronology of the Kochhar
- (Dr.N.Khalidi) The Cameleers in Australia
- (Stanizai Dr.Zaman)?the Lost Tribe of Israel Are Pashtuns

او نورې علمی لیکنې.

دغه مجله به راتلونکو ګڼو کې دعلمی مقالو ترڅنګ، د افغانستان د تاریخ او بشري علومود ټولنې د فعالیتونو راپورونه، اعلانونه، مرکې او نور مسایل هم خپروي.

مجله د افغانستان د تاریخ او بشري علومو د نوې تاسیس شوې ټولنې خپرنیز ارګان دی. دغه ټولنه په لاندې برخو کی علمي څېړني ترسره کوي:

Archaeology, ،Ethnography ،Anthropology ،Linguist ،Demography Genetics,جیوپولیتیک ،History ،Geographyاو نفوس.

د افغانستان دتاریخ او بشری علومو ټولنه دګران هیواد دتاریخی هویت، ملی مفاخرو دپیژندنې، د افغانستان په اړه د جعل د رد کولو او د تاریخی دښمنانو او د ملی ګټو ضد عناصرو د تحریف، مخدوش او مکدر کوونکو هلو- ځلو د خنثی کولو او د ګران هیواد د ریښتیني تاریخ د لا ځلولو په موخه همدا سږکال جوړه شوه. (د لیکنو دا لړۍ دوام لري).


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ